عبدالحفیظ ملیار

۲۰۱۳/۰۷/۰٤

# بس کړی




ای د څوکیو لیونیانـــو بس کـړی
د قـــدرتـــو د سر لیوانـــو بس کـړی

پخوامو په کور کې کوم ګوډ خر لرلو؟
نن په خارج کې بانکـدارانو بس کړی

تـاسـو پـه نس بانــدې هیڅ نه مړیږی
د بـد بختـیو ښامـــارانـــو بس کړی

دا بیت المال و وایی چا چور کړلـــو؟
چپاولـګــرو بـدمـاشانـــو بس کړی
د ملت څمکې خوهم تاسو چـور کړې
ولې بی رحمو غاصبانـــو؟ بس کـړی
د خپل د مـــور غـوښې مو وخـوړلې
د قبرستان رنګ رنګ چنجیانو بس کړی
ماشوم سپینګیري او ځوانان شهید شول
ولې بیرحم جنګسالارانو؟ بس کړی
په هره لویشت کې قبرستان لرو مونږ
بس کړی جابرو قـاتـلانـــو بس کړی

خلک اوس پوه شول نورنو نه غولیږي
ای د تبعیض تیکـه دارانـو بس کـړی

دا د حساب وخت خو به راشـــي اخر
د پاک الله شرمنده ګانو بس کړی

"حفیـظ ملیـار" د ملت درد وایمـــه
ای حـرام خـوره تپسانـــو بس کړی





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ